# له الله پرته بل برحق معبود نشته، هلاکت دی عربو ته د هغه شر له امله چې په ریښتیا نږدې شوی، نن ورځ د یاجوج او ماجوجو هغه کنډو دومره پرانیستل شو

له زینب بنت جحش رضي الله عنها څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په ویره کې هغې ته ورغی او وېې فرمایل: «له الله پرته بل برحق معبود نشته، هلاکت دی عربو ته د هغه شر له امله چې په ریښتیا نږدې شوی، نن ورځ د یاجوج او ماجوجو هغه کنډو دومره پرانیستل شو» بیا یې خپله غټه او ورسره ګوته حلقه کړې(یعني لږه برخه یې پاتې شوه)، زینب بنت جحش رضي الله عنها فرمایي نو ما وویل چې ای د الله رسوله! آیا موږ به هلاک شو په داسې حال کې چې زموږ په مینځ کې صالح خلک دي؟ وېې ویل: «هو، کله چې فسق او فجور زیات شي».

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د زینب بنت جحش رضي الله عنها (کور) ته په داسې حال کې ورغی چې وارخطا او ویریدلی و، او ویل یې: (لا إله إلا الله) غوښتل یې د یوې بدې پېښې له پېښېدو خبر ورکړي، چې د خلاصون بله لاره نشته پرته لدې چې الله تعالی ته پناه یوسي، بیا هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د عربو لپاره هلاکت دی د هغه شر له امله چې پېښېدل یې نږدې شوي دي، نن ورځ د یاجوج او ماجوج بند چې ذوالقرنین جوړ کړی و، پدې اندازه پرانستل شو او خپله غټه او مسواک ګوته یې سره حلقه کړې. نو زینب رضي الله عنها وفرمایل: څنګه به الله موږ هلاکوي پداسې حال کې چې په موږ کې صالح مؤمنان دي؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: کله چې فسق، فجور، ګناهونه، زنا، شراب او داسې نورې پلیت زیاتې شي بیا ټول تباه کیږي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3145